کتاب: افهام التجوید فی فی الاحکام التجوید پشتو

مصنف: مفتی حبیب الرحمان حذیفہ

موضوع: علم التجوید

فن: علم التجوید

ناشر: تعلیم القرآن مدرسہ اسلامیہ عربیہ

(((بِسْمِ اللهِ الرَّحْمنِ الرَّحِيْمَ)))

اَلْحَمْدُ للهِ رَبِّ الْعٰلَمِينَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى مُحمَّدٍ ص وَعلى اٰلِهِ وَاَصْحَابِهِ وَسَلَّمْ

اَمَّا بَعْد ه

((اوله روښنايي)) اول باب اول فصل :

طالب لره مخکي ترشروع کولو دکتاب (13)شيانوپيږندل ضروري دي

(1)دکتاب مصنف (2)لغوي معني او اصتلاحي معني دلفظ د تجويد (3)تعريف دعلم (4)موضوع دعلم(5)غرض دعلم (6)فائده دعلم(7)ارکان دعلم(8)فضلت دعلم(9)حکم دعلم(10)واضعين علم(11)ثبوت علم (12)اسم دعلم (13)مقام دقاري دي:

(1)دکتاب مصنف حکيم الامت مولانا اشرف علي تهانوي، صاحب ،

(2)تجويد په لغت کښي ښه اوعمده کار کولوته وايي په اصتلاح کي هر حرف دخپل مخرج څخه سره دصفتو اداکول:

(3) تعريف يي دادي .

هُوَ عِلْمٌ يُبْحَثُ فِيهَ عَنِ الْمَخَارِجِ الْحُرُفِ وَالصِّفَاتِ،

ترجمه:دايوعلم دي چي بحث پکښي کيږي دمخرجوڅخه حروف سره دخپلوصفتوسره اداکول ،

(4)موضوع الف با حروف دي يعني (ا ب ت ث ج ح خ دذ رزس ش ص ض ط ظ ع غ ف ق ک ل م ن و ہ ء ي)

(5)غرض ييدادي؟

صَوْنُ لِسَانِ عَنِ الْخَطَاءِ فِي تِلَاوَةِ الْقُرْآنِ : ترجمه :ساتل دژبي دي دخطاڅخه په تلاوت کولوکي دقرآن الکريم،

(6) فائده اوثمره ددي علم ده هغه داده . سَعَادَةُ دَارَيْنِ يا رضاء الله :

ترجمه: د دنيا او اخيرت نيک بختي ،

(7)ارکان يعني رکنونه يي څلوردي(1)مخرجونه(2)صيفتونه(3)ترکيبي قاعدي(4)رِيَاضَةُ الِسَانِ،

(8)فضلت د دي علم دي : داعلم افضل دعلومودي ځکه چي داعلم تعلوق دافضل الکتاب سره دي چی هغه قرآن الکريم دي

(9)حکم. يي حکم عموماً فرض کفايي ديعمل يي فر ض عين دي پر هغه کس چي تجويد يي ويلي وي نوپر هغه سړي باندي واجب ده چي قرآن شريف صحيح وه وايي،

خاص دالله درضاليپاره ليکل سوي کتاب

(10)واضعين دي ۔ واضعين ده ديعلم تجويد څلور دي (۱)واضع يي امام خليل احمد فراهيدي(۲) عمر بن عثمان(۳)يحي بن زياد(۴)محمد بن مستنير دي،

(11)ثبوت۔ دي په څلورو دلائلوسره سوي دي (1)ايات شريف (2)حديث شريف (3) اجماع دصحابه ؤده (4)قياس دي :

(1) ايات شريف دادي وَرَتِّلِ الْقُرْآنُ تَرْتِلاَ

ترجمه :قرآن شريف په تر تيل سره واياست :

(2)حديث شريف دادي (رُبَا الْقَارِ يَقْرَئُ الْقُرْآنُ وَالْقُرْآنُ يَلْعَنَهُ)

ترجمه :ډير وخت قاري قرآن واي او قرآن لعنت پر وايي :علمائكرام علت دابيان كړي چي قران غلط وايي :

(3)اجاع دامت ده چي اجماع دصحابُ واتفاق پر دي راغلي :يعني صحابه ئكرامو هم خپل په منځ كي قاعدي د تويد سره ويلي مطلق د تجويد كتاب نه ؤ نودامدونه وقفونه غونى او نوري قاعدي صحابه ؤسره لوستلي يودبله يى سره ذدكولي :

(4)قياس دي يعني په خپل عقل اوفكر سره يوشى ښه اوخوش كړه سي:

(12)اسم دي : يعني نوم ده دي علم دي چي ولي تجويد نوم ورته وضع كړه سو بل نوم به ئی ورته وضع كړي وايى .داځكه دحضرت علي (رض)څخه خلكوپښتنه وكړه چي د دي ايات معني څنګه كيږي

(ورتل القرآن ترتيلا) حضرت علي (رض)په جواب كي ورته و ويل اتر تيل هوتجويد الحروف ومعريفة الوقوف ، يعني حروف ښه اداكول او وقفونه پيږندل ۔ نوهمدغه دتجويد لفظ نوم ده دي علم كښيښودل سو:

(13)مقام دي دقاري : مقام د قاري دادي په حديث شريف راغلي دي كه يوقاري ياحافظ دستار فضلت ترسره كړي اوكورته ورسي نودڅراغ مثال لري لكه په دي كوركي چي څيراغ روښانه سي:

<u>دمقام القاري په باب دارنګه حديث راغلی دي</u>

عَنْ عَائِشَةَ. قَالَتْ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: '' المَاهِرُ بِالقُرْآنِ مَعَ السَّفَرَةِ الكِرَامِ البَرَرَةِ، وَالَّذِى يَقْرَأُ القُرْآنَ وَيَتَتَعْتَعُ فِيهِ، وَهُوَ عَلَيْهِ شَاقٌ، لَهُ أَجْرَانِ ''.اكمال المعلم بفوائد مسلم باب فضل الماهر بالقرآن والذي .جلد ۳ صفحه ۱۶۶

د دغه حديث په شرح كي داسي تشريح سوي ده

(الماهر): الحاذق، يحتمل أن يريد به: جودةَ الحفظ والمهارةَ في القرآن، ويحتمل أن يريد به: جودةَ اللفظ وإخراجَ كلِّ حرف من مخرجه.المفاتيح في شرح المصابيح . كتاب فضائل القرآن جلد ٣ صفحه ٦٥

الماهر بالقرآن مع السفرة الكرام البررة، والذي يقرؤه ويتعتع فيه وهو عليه سياق له أجران. (ق د هـ) عن عائشة (صح) (الماهر بالقرآن) الحاذق به الذي لا يتوقف ولا يشق عليه قراءته لجودة حفظه وإتقانه ورعاية مخارج حروفه (مع السفرة) معدود فيهم وهم الملائكة الكتبة جمع سافر: وهو كاتب السفر وهو الكتاب، سموا بذلك لأنهم ينقلون الكتب الإلهية المنزلة إلى الأنبياء (الكرام البررة) جمع بار: المطيعين لله، أي معهم في المقامات الرفيعة في الجنات، وقيل: عامل فعلهم، وقال القاضي (-2): الماهر بالقرآن حافظ له أمين عليه يؤديه إلى المؤمنين، يكشف لهم ما التبس

التنوير شرح الجامع الصغير المعروف باللام من حروف الميم جلد ١٠صفحه ٤٦١

أخرجه أحمد (4/ 271)، ومسلم (2586). (2) شرح مسلم (6/ 84 - 85).

(2) ((دوهمه روښنا يي)) دوهم فصل:دلحن بيان دي))

سوال :په جمال القرآن كي ليكلي دي چي دتجويد خلاف قرأن ويل يا غلط ويل اويا بي قاعدي ويلو ته لحن وايي د دغه درو قسمو غلطيو څخه كومي غلطي جني مراد دي:

جواب: دتجويد خلاف څخه مراد مخرجونه اوصفتونه نه مرعاتوي: دغلط ويلو څخه صرفي اونحوي قاعدي نه مرعاتوي : دبي قاعدي ويلوڅخه مراد تركيبي قاعدي نه مرعاتوي:داسي ويلو ته لحن وايي :يعني دغه پنځه قسمه غلطي دلحن جلی دي ،

سوال، لحن په لغت اواصتلاح كي څه ته وايي؟

جواب،په لغت كي غلطي ته وايي اوپه اصتلاح كي دوه قسمه دي(١)لحن جلي (٢)لحن خفي : سوال، لحن جلي په لغت اواصتلاح كي څشي ته وايي؟

جواب،لحن جلي په لغت كي غټي اوښكاره غلطي ته وايي اوپه اصتلاح كي څلورصورنه لري :

(١)اول تبديل الحرف بالحرف لكه (اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ)په (اَلْهَمْدُ لِلّٰهِ)سره و وايي

(٢)زيادت كوي لكه (اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ)په (اَلْحَمْدُوْ لِلّٰهِ) و وايي يعني تر دال ورسته واوزيات كړي

(٣)نقصان كوي يعني حروف پرېږ دي لكه (نَسْتَعِيْنُ) په (نَسْتَعِنْ)سره و وايي

(٤)په حركاتوكيی تغيرات كوي لكه (اَنْعَمْتَ) په(اَنْعَمَتَ) خَتَمَ اللهُ)په خَتْمَ اللهُ)سره و وايي: دلحن جلي حكم په دنياكي حرام په اخرت كي دعقاب بيره پر سته اولمونځ بعضي اوقا توكي فاسده وي.

مسئله

د ضاد حرف په (وَلَا الضَّالِّينَ)لفظ كي په نورو حروفوسره بدلوي اول په) (وَلَدَّالين)يا په په (زا)په (ظا)(ذال)سره ويل يعني (ض) حرف په خپل مخرج كي او په خپلو صفاتو ادانسي او يا هم دنوروحروفوسره مشابه اوازدخولى راوباسي نواوس به وګورو كه د ضاد حرف بلاتكليفه دنوروحروفو څخه راجلا كيدى اومعلوميدي نومشابهه اواز راوتلي لـه خولي څخه دقاري نو لمونځ نه فاسده وي بلكي مكروه كيږي ،اوكه په معنى كي تغير راتلي نو لمونځ فاسديږي .

اوكه تمايوزنه كدي بل كي په تكليف او سختي سره به معلوميږي چي قاري ضاد حرف اداكوي نو په دغه غلطي سره لمونځ فاسديږي .

قال ابن عابدين :قوله الا مايشق قال فى الخانيه والخلاصة الاصل فيما اذاذكر حرفاً مكان حرفٍ وغيرامعنى ان امكن الفصل مابينهما بلامشقه تفسد والايمكن الابمشقه كا لظاء مع الضاد المعجمتين والصادمع السين المهملتين والطاءمع التاء قال اكثرهم لاتفسدو رد المحتارجلد ١ صفحه ٦٣٣ باب زلة القاري

قال اطاهر بن عبد الرشيد :والاصل فى هذه انه امكن الفصل بين الحرفين من غير مشقه كا لطاء مع الصاد بان قرأ الطالحات مكان الصالحات تفسد صلوة وان كان لايمكن الفصل بين الحرفين الابمشقه كا الظاء مع الضاد الصاد مع السين والطاء مع التاء اختلف المشائخ فيه قال اكثرهم لاتفسد قال بعضهم يفسد : خلاصة الفتواى ج ١ص ١٠٦ ومثله فى الهندية ج ١ ص ٧٩ باب زلة القار ي

(دوهم قسم لحن خفي دي

سوال لحن خفي څه ته وايي؟

جواب ،لحن خفي په لغت كي كوچني اوپټي غلطي ته وايي :جي يـواځي قـارى صـاحبان پـه پوهيږي ،

اوپه اصتلاح كي هغه غلطي ته وايي چي يوحرف مفخم ويل كيږي دويئ مرقق يعني باريک ئي وه وايي يا يوحرف ډک ويل كيږي خودوئي باريک وه وايي يايوحرف مشدوي مخفف يي ووايي يا يوحرف مخفف ويل كيږ ي خودوئي مشد د وه وايي،دغه قسم كله كله لحن جلي هم كيږي ،

سوال . دلحن جلى حكم څه دى،

جواب ،دلحن جلى حكم په دنياكى حرام دي په اخرت كى عذاب دى لمونځ پرى فاسيديږى ،

سوال ،لحن خفى حكم څه دى ،

جواب ، دلحن خفى حكم مكروح دى لمونځ مكروح كوى د اخروي عذاب خوفورباندي نسته ،

مسئله حركتونه

فتحه په كسره سكره په فتحه يا ضمه په فتحه او كسره يا سره بدلول څه حكم لري

كه هغه رنګه حركت لرونكى لفظ قرآن الكريم كي نه وي نولمون فاسده وي او كه معنى غلطه وه نو لمونځ فسد دي مثال (وَشِفَاءٌ لِمَا فِي الصُّدُورِ وَهُدًى وَرَحْمَةٌ لِلْمُؤْمِنِينَ (57)كه دشين په زور سره وه يل سي لمونځ فاسده وي

ردالحتار ج ١ ص ٦٣١ الهنديه ج ١ ص ٨١ خلا صة الفتاواى ج ١ ص ١١٣

مسئله حرف (ض)

ضاد حرف بايد د ظا مشابه كه د دال مشابه ولوستل سى ؟

ضاد ځانته حرف د ى نه بايد دظا مشابه او نه د دال مشابه ولوستل سى دضاد دحرف ذكول بايدداستاذڅخه وسي

خاص دالله درضالپاره ليكل سوي كتاب

(3) ((دريمه روښنا يي)) ((دريم فصل))

بيان(د (اَعُذُ بِا الله مِنَ الشَّيْطا نِ الرجِيْم)(اوبِسْمِ الله الرحمن الرحيم)دي

دقرآن الكريم تر شروع كولو مخكي داعوذ باالله اوبسم الله ويل ضروري دي

سوال ؟د اعوذ با الله ويل په څه شي ثابت دي جواب په ايات سره ثابت دي ايات شريف دادي(فَإِذا قَرَأْتَ الْقُرْآنَ فَاسْتَعِذْ بِاللَّهِ مِنَ الشَّيْطانِ الرَّجِيمِ [النحل: 98]

ترجمه كله چي قرآن واياست نو فنا په نامه الله (جل جلاله)سره غواړي دشيطان رټل سوي څخه : داعوذ با الله په ويلو كي اختلاف دي دعلماؤيوڅه علمائكرام داعوذ باالله ويل واجب بولي اودليل يئ دادي چي په ايات كي صغه دامر ده او امر په معني دوجوب دي نو ويل داعوذ با الله واجب دي مستحب والا بيا وايي چي دقرآن الكريم ويل اصل دي اوتلاوت مستحب دي نو اعوذبا الله خو فرع داعوذ باالله ده نو چي اصل مستحب دي نو فرع خو په طريقه اولا سره مستحب دي : اوداقول د استحباب ښه قول هم دي ځكه چي ډير ښه علمائكرام ليدلكيږي چي تقرير كوي نودايات څخه مخكي اعوذ باالله نه و وايي پاته سي كه واجب سي نوبيابه ډيرعلمائكرام به په گناه كي واقع سي،دبسم الله سبوت په حديث شريف سره سوي دي (كُل اَمرِذِي بالٍ لم يُبد اَ بِبِسمِ اللهِ فَهُوَاقطَعٍ وَاَجزَمٍ) يعني كه په كار خير شروع كوي نو بسم الله به وايي كه يي ونه وايي نو بركت به يي په كار كيي نه وي ،سوال په قرآن شريف كي څو سورتونه دي ؟

جواب،(۱۱۴)سورتونه دي د(۱۱۳) سر كي بسم الله سته ديوه سورت په سر كي بسم الله نسته ،چي هغه سورت توبه دي د دي لپاره دري وجهي دى اوله وجه داد دانفال

سورت په سر كي بسم الله ستة دوهم وار ضرورت نه ؤبسم الله ته ځكه سورت انفال اوسورت توبه سورتونه سره يودي نو دسورت انفال په سركي بسم الله ستة دوهمه پلا تكرارته ضرورت نه ؤ نوځكه دسورت توبه په سركي بسم الله نسته ؟ دوهمه وجه داده چي حضرت عثمان صاحب نه ده ويلي هغه جامع القرآن ؤ نوموړ يي هم نه وايو ځكه موږ دصحابه ؤ دپښنوخاوري يو ، دريمه وجه داده چي توبه سورت كي بحث دقهر دي او بسم الله د رحمت په وخت كي ويل كيږي ،نورحمت اوقهر نه سره يو ځاي كيـږي

مسئله دسورت توبه په شروع اوياپه منځ كي بسم الله الرحمن الرحيم ويلوپه باب فقها څه فرمايلي دي ؟

فقهائكراموفرمايلي دي چي دشروع په وخت كي دي مطلق اعوذ باالله من الشيطان الرجيم وايى او په منځ كي بسم الله هم ويلاي سي كوم مشكل نسته

دمفتى پرقول وايى دشروع پر وخت دي بسم الله هم وايي مفتي محمد شفيع په معاريف القرآن كي وايى دسورت توبه په سركي دبسم الله نه ليكلو شايد وجه داوي چي سورت توبادي ځان ته مستقل سورت نه وي دابه دانفال سورت يوه حصه وي نوځكه بسم الله ونه ليكل سوه چي تكرار دبسم الله رانسي نودغه وجه ده چي فقهاوايي كه يو قاري صاحب ياحافظ صاحب تلاوت دانفال سورت څخه شروعكړي نوپر توبه سورت باندي راسي نوبسم الله به نه وايي اوكه يي دتوبي سورت څخه يي شروع كول نو بسم الله دي وه وايي (معاريف القرآن جلد ۴ ص ۳۰۷

فضيلت القرائت

عن أبي هريرة عن رسول الله صلى الله عليه قال: (ما تجالس قوم في بيت من بيوت الله، يتلون كتاب الله، ويتدارسونه بينهم، إلا حفت بهم الملائكة، وغشيتهم الرحمة، وذكرهم الله فيمن عنده، ومن أبطأ به عمله لم يسرع به نسبه). وعن عبد الله بن مسعود رضي الله تعالى عنه قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم:)من قرأ حرفاً من كتاب الله، فله به حسنة، والحسنة بعشر أمثالها، لا أقو ل)الم(حرف، ولكن، ألف حرف، ولام حرف، وميم حرف(.رواه الترمذي، قال: حديث حسن صحيح. وعن عمر بن الخطاب رضي الله تعالى عنه، أن النبي صلى الله عليه وسلم قال:)إن الله تعالى يرفع بهذا الكتاب أقواماً، ويضع به آخرين(.رواه مسلم، وابن ماجه. وعن أبي موسى الأشعري رضي الله تعالى عنه قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم:)مثل المؤمن الذي يقرأ القرآن كمثل الأترجة، ريحها طيب، وطعمها طيب، ومثل المؤمن الذي لا يقرأ القرآن كمثل التمرة لا ريح لها، وطعمها حلو، ومثل المنافق الذي يقرأ القرآن كمثل الريحانة، ريحها طيب، وطعمها مر، ومثل المنافق الذي لا يقرأ القرآن كمثل الحنظلة ليس لها ريح وطعمها مر(.وفي رواية:)مثل الفاجر(بدل)المنافق(.- رواه أحمد، والبخاري، ومسلم، وأبو داود، والترمذي، والنسائي، وابن ماجه: عن عثمان رضي الله عنه قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: (خياركم من تعلم القرآن وعلمه). عن ابن عباس قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: (أشراف أمتي حملة القرآن :عن جابر بن عبد الله قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: (أكرموا حملة القرآن فإنهم أوغلوا علم الله إلا أنه لا يوحى إليهم

(۴) ((ځلرمه روښنايي ((دوهم باب اول فصل))

(په دي روښنايي کي بيان دمخارجودي)

مخارج جمعه دمخرج ده مخرج په لغت کي مكان الخروج ته وايي په اصتلاح کي (حِيَزمُوَلِّدُ لِلْحَرْفَ) يعني هغه ځايي چي حرف جني اداکيـږي ،په مخارجو کي اختلاف دي داماماتودي(۱)قول امام ،خليل صاحب دي چي هغه مخا رج (۱۷) اولس داني بولي چي زموږ قول هم داغه دي ،

(۲)قول دامام،سيبويه صاحب دي چي دی بيا مخارج (۱۶) شپاړس بولي

(۳)قول دامام فراه صاحب دي چي دی يي مخارج (۱۴) څورلس بولي ؛:

ښه قول دامام خليل احمد صاحب دي ځکه چي موږ عجم يو داعجميانو لپاره کثرت دمخارجو ښه دي نوموږ بايد مخارج ډير وبولو ځکه چي موږ په عربي کي نابلده يو نوچي مخارج ډير وي نوموږ ته اساني په کثرت کي دمخارجو ده

سوال حرف په لغت اواصتلاح کي څه ته وايي؟جواب ،حرف په لغت کي کناره يا طرف ته وايي په اصتلاح کي،(صوة يعتمد علي مخرجٍ محققٍ اومقدري مخارج پردوه قسمه دي اول مخارج محقق دوهم مقدر دی محقق يعني ښكاره مخارج دغه (۱۵)دي مقدر مخارج بيا دوه داني دي، جوف ،اوخشوم دي ،

سوال مخاريج دحروفو په اعتبار په څو نومانويادیږ ي ؟

جواب،پر(۱۱)يؤلسونومانو ياديږ ي ،

(۱)(جوفيه)(۲)حلقيه(۳)لهاتيه(۴)شجريه(۵)حافيه(۶)زلقيه(۷)نطعيه(۸)لثويه (۹)صفيريه (۱۰)شفويه (۱۱)خيشوم،

(وضاحت)

جوفيه حروف (۳)دي (و ا ي) حلقيه حروف(۲)دي(ء ه)لهاتيه(۲) دي(ق ک) دي ، شجريه حروف (۳)دي (ج ش ي)حافيه حروف(۱) دي (ض) دي زلقيه حروف (۳)دي (ل ن ر) نطعيه حروف(۳)دي(ط د ت)لثويه حروف(۳)دي(ظ ذ ث) صفيريه حروف(۳) دي (ص ز س)شفوي حروف (٤)دي(ب م و ف) خيشوم دپزي په بندكي غونه كول ،ټوله حروف هيجا نويشت دي (۲۹)

((دوهم فصل))

((مخاريج اولس داني دي))

(۱)مخرج جوف دهن دي چي واو الف او يا پكښني ادا كيږ ي،

(۲)مخرج اقصا ئي حلق دي چي همزه اوها پكښني اداكيږ ي،

(۳)مخرج وسط حلق دي چي عين او حا پكښني اداكيږ ي،

(۴)مخرج ادنا ئي حلق دي چي غين او خا پكښني اداكيږي،

(۵)مخرج دلهات السان دي چي کاف پکښيي اداکيږي،

(۶)مخرج دلهات السان دي چي قاف دځګرخواته پکښي اداکيږ ي ،

(۷)مخرج دشجر السان دي چي جيم شين او يا پکښي اداکيږي

(۸)مخرج دحافة السان دي چي ضاد پکښي اداکښي اداکيږي ،

(۹)مخرج د لام دي دخلورو قسمه غاښوڅخه اداکيږي ،ثنايا، روباعيا ، انياب، ضواحک،

(۱۰) مخرج د نون دي چي د دروقسمه غاښوڅخه اداکيږي، ثنايا، رباعيا ،انياب

(۱۱)مخرج د رادي چي د دؤ قسم غاښوڅخه اداکيږي، ثنايا ،رباعيا ،

(۱۲)مخرج د حروفو نطعيه وو دي چي طا دال تا پکښي اداکيږي ،

(۱۳)مخرج دلثويه حروفو دي چي ظا ذال ثا پکښي اداکيږ ي ،

(۱۴)مخرج دصفريه حروفو دي چي صاد زا سين پکښی اداکيږي،

(۱۵)مخرج دشفه دي چي فا پکښي اداکيږي،

(۱۶)مخرج د با ميم واو دي چي دغه څلور حروف شفوي بولي (ب م و ف

(۱۷) غونه ده چي دپزي په بند کيږي ،مثال لونه يي دادي(انَّمَا اِمَّا)

مسئله ضالين په دوالين ويلوڅه حکم دي ؟

داچي د ضاد حرف ډير په سختي سره دخپل مخرج څخه اداکيږي حتي عرب هم ضاد حرف سم نسي اداکولايی ډير عرب ليدل کيږي چي ضالين په دوالين سره اداکوي نو دعمومي بلوای لوجهي به لمونځ فاسيد نه وي : فتاوای دارالعلوم ديوبند ج ۴ ص ۴ مسئله بَاصِرَةً په بَاسِرَةً) ويلوسره دلمانځه حکم څه دي ؟داچي ده صاد حرف او سين حرف تر منځ ډير فرق سته حوليکن لمونځ نه فاسده وي . وان لم يغير المعنى فلافساد الخ رد المحتار ج۱ ص ۴۶۶ لم تفسد مالم يتغيرالمعنى الدرالمختار على هامش ردالمحتار ج ۱ ص ۴۶۸

مسئله ځني خلک واي په صراط الذين باندي ساخستل کفر دي ايا داغسي ده؟

نه داخبره غلطه ده په مذکوره ځايی باندي ساخستلو سره قاري نه کافر اونه هم لمونځ فاسدبلکي هغه څوک چي دکفر ټاپه لګوي پر هغه کس دکفر خطره سته کمافی الحديث (ايما رجل قال لاخيه کلفراً فقد باءبها احدهما رواه شيخان وفي الحديث اخرايضاً من الدوعارجلابا لکفراوقال عدو الله وليس کذالکالا حارعليه (متفق عليه)

((دغاښونوبيان))

تولله له غاښونه د انسان په خوله کي (٣٢) دي چي په شپږو و نومانوسره ياديږ ي ،

(١)ثنيا (۴)داني دي (٢)رباعيا (۴)داني دي (٣)انياب(۴)داني دي (۴)ضواحک(۴)داني دي

(۵)طواحن (١٢) داني دي (۶)نواجز(۴)داني دي،

(د ژ بي بيان)

پراتو برخو ده رأس السان(١) طرف يمنالسان (٢)طرف يسرا لسان(٣) حافة اليمنا لسان(۴)حافة اليسرا(۵)وجه لسان(۶)ظهرالسان(٧) اقصي لسان(٨)منتهي لسان

سوال :ثنياولي ورته واي ؟ جواب داغاښونه دنوثي وظيفه اجراكوى

سوال: رباعيا ولى ورته وايى ؟ جواب رباعيادثناياؤ پايى دى كومک وركوي

سوال :انياب ولى ورته وايى؟ جواب ناب نيښ ته واي دانياب غښونه لكه نيښ داسي تيره دي

سوال: ضواحک ته ولي ضواحکه وايي ؟ جږاب دا دخندا په وخت كي ښكاره كيږي ضحک خنداته وايى

سوال : طواحن ولى ورته وايى؟جواب طواحن جمع دطحن ده طحن دژرندي پله ته وايي

سوال: نواجزولى ورته وايى؟ جواب نوجز دغورى چنګک ته وايى دنجز غاښونه لاندي كلک اوټنګ دي

الحديث النبويه

قال: حدثني قتادة، قال: سألت أنس بن مالك عن قراءة رسول الله صلى الله عليه وسلم فقال: كان يمد صوته بالقرآن مداي.

عن البراء بن عازب، عن النبي صلى الله عليه وسلم قال: (زينوا القرآن بأصواتكم). ؟باب في محبة الله حسن الصوت بالقرآن أنا أبو عبد الرحمن محمد بن الحسيني السلمي، أنا جدي إسماعيل بن نجيد، نا محمد بن أيوب الرازي، أنا محمد بن عقبة السدوسي، نا الوليد بن مسلم، نا الأوزاعي، عن إسماعيل بن عبيد الله بن أبي المهاجر، عن ميسرة مولى فضالة: عن فضالة بن عبيد، عن النبي صلى الله عليه وسلم قال: (لله أشد أذنا إلى الرجل الحسن الصوت بالقرآن من صاحب القينة إلى قينته).

عن ابي سعيد الخدري قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: (فضل كلام الله عز وجل على سائر الكلام كفضل الله على غيره). وأخبرني السلمي ومحمد بن القاسم الفارسي، قالا: نا ابن قريش، نا الحسن بن سفيان، نا محمد بن حميد، نا يونس بن واقد، نا سعيد عن قتادة، عن شهر بن حوشب: عن أبي هريرة عن النبي صلى الله عليه وسلم قال: (فضل القرآن على سائر الكلام كفضل الرحمن على غيره).

سألت أنس بن مالك عن قراءة رسول الله صلى الله عليه وسلم فقال: كان يمد صوته بالقرآن مدا. ن جابر بن عبد الله قال: خرج علينا رسول الله صلى الله عليه وسلم ونحن نقرأ القرآن وفينا العجمي والعربي قال: فوقف علينا يستمع، فقال (اقرءوا فكل حسن)

خاص دالله درضاليپاره ليكل سوي كتاب

((پنځمه روښنايي)) ((دريم باب اول فصل))

(په دي روښنايي کي بيان دتجويد دوهم رکن شروع کيږي چي اول بيا ن صفاتو دي)

صفات جمع دصفت ده ،

سوال صفت په لغت کي اوپه اصتلاح کي څه ته وايي؟

جواب،په لغت کي (مَاقَامَ بِشَيْئٍ) ته وايي په اصتلاح کي

(اَلْصِفَتُ هيَ كَيفِيَتٍ عَارِضَةُ لِلْحَرف عِنْدَ حُصُولِ عَنِ الْمَخْرَجْ)

توله صفتونه (۱۷)داني دي بيا دغه صيفات پر دوه قسمه دي لازمه اوعارضيه دغه صفات لازمه پنځه جوړي دي چي لس کيږي دغه لسوصيفاتو ته صيفاة متضاده هم وايي ځکه چي دوي سره ضد دي چي په يوه حر ف کي دوه متضاده صيفتونه نه سره جمع کيږي،عارضيه صفات اوه داني دي ، چي ده دوي تر منځ هيڅ تضاد نسته ،اول داولسووصفاتو بيان کؤ چي (۱۷) داني دي

اول دصفاتونومان ښه پياد کړي

((دصفتونومان))

همس جهر شدت رخوت توسط استعلاء استفال اطباق انفتاح اذلاق اصمات صفير.

قلقله .لين .انحراف .تقرير. تفشي .استطالت

پاملرنه : په دغي مسئلي محترم استاد بايد شاګردان ښه پوهکړي ، په لوړو پنځه جوړي سره بدين دي يعني كه يوپه حرف کي راسي نومقابل صفت په دغه حرف کي نسي راتلايي مثال : (ف) حرف دي صفت ده همس پکښي دي نودجهر صفت نسي پکښي راتلايي بل مثال : (ح) حرف دي صفت د همس پکښي دي نو دجهر صفت نسي پکښي راتلايي دارنګه ټوله حروف دارنګه دي ،

په لاندني صفتونوکي حيڅ ډول اختلاف نسته

داني(۱)صفير(۲) قلقله (۳) لين(۴)انحراف (۵)تقرير.. تشريح (۶)تفشي (۷) استطا لت

((دوهم فصل))

سوال؟ همس په لغت او اوپه اصتلاح کي څه ته وايي ،جواب، په لغت کي کښته والي ته ،اوپه کوم حرف کي چي داصفت راسي ، نوحرف مهموسه ورته وايي،

د ادا په وقت کي اوازپه خپل مخرج کي په داسي کمزوري سره ودريـږي چي ساجاري وي په اواز کښي کښته والي وي دا حروف لس داني دي مجکوعه يي داده (فَحَثَّهُ شَخْصٌ سَكَتْ)

سوال: جهر په لغت کي څه ته وايي اوپه اصتلاح کي څه ته وايي؟

جواب، په لغت کي لوړوالي ته وايي،اوپه اصتلاح کي چي په کومو حروفو کي داصفت راسي نو ورته مجهوره وايي،د اداپه وقت کي سابنده سي اواز کي يوقسم لوړوالي وي په نيز دقرآؤ،

سوال: شدت په لغت کي څه ته وايي اوپه اصتلاح کي څه ته وايي؟

جواب ،شدت په لغت کي سختي ته وايي ،او په په اصتلاح کي چي داصفت په کوموحروفو کي چي داصفت راسي ورته شديده وايي دادا په وقت کي اواز په خپل مخرج کي په داسي قوت سره ودرېږ ي چي اواز بند سي اوڅه سختي و ي داحروف (۸) دي مجموعه يي داده (اَجِدُکَ قَطَبْتَ)

سوال: رخوت په لغت او اصتلاح کي څه ته وايي ؟

جواب،نرمي کول ته وايي ،په اصتلاح کي په کوموحروفو کي چي داصفت راسي نوورته حروف رخوه وايي دادمطلب يي دادي چي اواز په خپل مخرج کي په داسي کمزوري سره ودريـږي چي اواز جاري وي خوپه اوازکي يوقسم نرمي وي ،که څوک مدلين پر کوي نوهم يي کولاي سي ،

سوال؟ توسط په لغت کي څه ته وايي اوپه اصتلاح کي،څه ته وايي ؟جواب ،توسط په لغت کي مابين يا ميانه والي ته واي اوپه اصتلاح کي په کومو حروفو کي چي داصفت دتوسط راسي نوورحروف متوسطه وايي د داپه وقت کي نه پره شدت وي لکه په حروف شديده کي اونه پره نر مي وي لکه په حروف رخوه کي داسي حروف (۵) دي مجموعه يي داد(لِنْ عُمَرَ) (ل ن ع م ر)

سوال ؟استعلا په لغت کي څه ته وايي اوپه اصتلاح کي څه ته وايي ،

جواب،استعلا په لغت کي لوړ والي يا بلند والي ته وايي، په اصتلاح کي په کومو حروفو کي چي داصفت راسي هغوته حروف مستعليه وايي د ادا په وقت کي دژبي پاي د لوړ تالوسره وموښلي نوداحروف په دغد وجه ډک ويل کــيږيي داحروف (۷)دي (ضَغْطٍ قِظْ)

سوال ؟استفال لغت کي او په اصتلاح کي څه ته وايي ،جواب،په لغت کي کښته والي ته وايي ،په اصتلاح کي چي دا صفت د استعلاپکښي نه وي راغلي او دادا په وقت کي د ژبي پاي لوړتالوته نه پورته کــيږي نودا حروف باريک ويل کيږي داسي حروف ټوله هجا دي سيواده مستفله حروفو څخه ،

سوال؟ اطباق په لغت اواصتلاح کي څه ته وايي؟ جواب،په لغت کي ملصق والي ته وايي يعني مښلولوته ويل کيـــږي،

اصتلاح کي په کومو حروفو کي چي دا صفت راسي نوور ته حروف مطبقه وايي ،دادا په وقت کي دژبي مابين دلوړتالو سره وموښلي نودا حروف اداسي په هم دغه وجه ډک ويل کيږي داسي حروف (۴) دي هغه دادي (ص ض ط ظ) حروف مطبقه

ورته وايي، انفتاح په لغت کي جلاوالي يا لري والي ته وايي اوپه اصتلاح کي، که په کومو حروفو کي داصيفت داطباق نه وي راغلي نو ورته حروف منفتحه وايي داسي حروف ټوله حروف هجا دي سيواده مطبقه حروفو څخه،

سوال؟ ازلاق په لغت کي څه ته وايي اوپه اصتلاح کي ،جواب،په لغت کي چابکي ته وايي ،او په اصتلاح کي په کومو حروفو کي چي دا صفت راسي نوورته مزلقه حروف وايي دادا په وقت کي داحروف دخپل مخرجه په چابوکي سره اداکيږي داسي حروف (۶)

دي مجموعه يي داده (فَرَّمِنْ لُبٌ)

سواب ؟ اصمات په لغت کي اواصتلاح کي څه ته وايي ،جواب ،په لغت کي مضبوطي ياسختي ته وايي په اصتلاح کي په کوموحوفوکي چي داصفت راسي هغه حروفوته حروف مصمته وايي د اداکيفيت يي دادي چي دشندانوڅخه په ډير سختي يا مضبوطي سره اداکــيږ ي ،داسي حروف ټوله حروف هيجادي ماسيواده مزلقه حروفوڅخه ،

خاص دالله درضالپاره ليکل سوي کتاب

صفات غيرمتضاده

(۱)صفير دي په لغت كي تيز اوازته وايي ، اوپه اصتلاح كي په كومو حروفو كي چي داصفت راسي هغه ته حروف صفير يه وايي دادا په وقت كي تيز اواز دشپيلک په شان له خولي څخه راوزي داسي حروف دري دي (۳)هغه دا دي (ص ز س)

(۲) دوهم : قلقله په لغت كي حركت يا جنبش ته وايي په اصتلاح كي په كوموحروفو كي چي داصفت راسي نوورته حروف مقلقله وايي د ادا په وقت كي يوقسم حركت پر ساكن حرف باندي پيداسي داسي حروف (۵)دي مجموعه يي داده (قُطْبُ جَدٍ)

(۳)دريم : لين: په لغت كي څه ته وايي اوپه اصتلاح كي څه ته وايي، جواب په لغت كي نرمي كردن ته وايي په اصتلاح كي په كوموحروفو كي چي داصفت راسي هغوته حروف لينيه وايي داد اپه وقت كي په ډير ه نرمي سره اداكـيږي كه څوک مد لين پر كوي كولاي سي داسي حروف دوه دی واو ساكن ماقبل مفتوح ياساكنه ماقبل يي مفتوح وي لكه(مِنْ خَوْفَ)(وَصَّيْفَ) مد لين پر كيږي،

سوال، انحراف په لغت كي اواصتلاح كي څه ته وايي؟جواب، په لغت كي ميلان ته وايي په اصتلاح كي په كومو حروفوكي چي داصفت راسي نو ورته منحريفه واي دصفت مطلب دادي چي په لامكي اداپه وقت كي دلام د مخرج څخه د را مخرج ته ميلان پيداكوي درا دمخرج څخه دلام دادا دزبي په وخت كي كناري خواته ميلان پيداكيږي ،اوپه اداكي دزبي شاوه خواته ميلان پيداكيږي داسي حروف دوه دي (ل ر)

سوال، تكرير په لغت اواصتلاح كي څه ته وايي ؟ جواب،په لغت كي تكرار ته دشي وايي په اصتلاح كي هغه تكرارمراد دي چي مشابهت يي د تكرارسره وي خوحقيقي تكرار نه وي شبهي تكرار ديته وايي چي يوقسم لړزه پر ژبه باندي راسي خو حققي تكرار رانسي لكه (اللهُ اكبَرْ)

(مَثَلُهُمْ كَمَثَلِ الَّذِي اسْتَوْقَدَ نَارًا فَلَمَّا أَضَاءَتْ مَا حَوْلَهُ ذَهَبَ اللَّهُ بِنُورِهِمْ وَتَرَكَهُمْ فِي ظُلُمَاتٍ لَا يُبْصِرُونَ (۱۷)

دغه صفت يواځي په راكي راتلايي سي په نوروحروفو كي نسته،

سوال ؟ تفشي په لغت كي څه ته وايي اوپه اصتلاح كي څه ته وايي ، جواب ،په لغت كي پاشلو ته وايي په اصتلاح كي په كومو حروفو كي چي داصفت راسي نو ورته حروف متفشيه وايي په اصتلاح كي دادا

په وقت كي اوا ز په خوله كي پاشل كيږ ي

دصفت يواځي په (ش)كيدي،

سوال ؟استطالت په لغت كي او په اصطلاح څه ته وايي، جواب، په لغت كي وږ د ولو ته وايي په اصطلاح كي په كومو حروفو كي چي داصفت راسي نو ورته مسطله وايي دادا په وقت كي اوازدخولي دابتداڅخه بياتر انتهاپوري جاري وي ،داصفت يواځي په (ض) حرف كي راځي: مثال په ايات كريمه كي (في قُلُوبِهِمْمَرَضٌ فَزَادَهُمُ اللَّهُ مَرَضًا وَلَهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ بِمَا كَانُوا يَكْذِبُونَ،(۱۰)

(قاعده اوله) په يوه حرف كي دوه متضاد صيفات نسي سره جمع كيدايي ،

(قاعده دوهمه)اوپه يوه حرف كي تر (۷) زيا ت صفتونه نسي راتلايي اوتر(۴)كم صفتونه نسي راتلايي ،

فرق دصفت زاتيه اوصفت عارضيه

(قاعده دريمه)دصفاتوزاتيه دنه ادا په صورت كي حرف لمنځه ځي دصفاتوعارضيه دنه ادا په صورت كي دحروفو تحسين لمنځه ځي

(قاعده څلرمه) حروف تولـه دقوت اوضعف په اعتبار سره پرپنځه قسمه دي

(۱)اقوا (۲)قوي (۳)ضعيف (۴)اضعف(۵)متوسط،

(۱)اقوا ،اقواحروف هغه حروف دي چي تولـه صفتونـه دقوت پكښي وي كه يو صفت دضعف پكښي وي پر وانه لري ،

(۲)قوي،قوي هغه حروف دي چي ډير صفتونه دقوة وي لږصفتونه ضعف پكښي وي

(۳)ضعيف هغه حروف دي چي ډير صفتونه دضعف وي لږيي دقوة وي ،

(۴)اضعف هغه حروف دي چي تولـه صفتونه يي دضعف وي كه يو صفت دقوة وي هم پروانه لري

(۵)متوسط ،هغه حروف دي بعضي صفتونه دقوة بعضي دضعف وي ،

الحديث النبويه

عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا قَالَتْ (سَمِعْت رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ { كُلُّ صَلَاةٍ لَمْ يُقْرَأْ فِيهَا بِأُمِّ الْقُرْآنِ فَهِيَ خِدَاجٌ}عَنْ عَلِيِّ بْنِ أَبِي طَالِبٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ { كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ وَهُوَ رَاكِعٌ اللَّهُمَّ لَكَ رَكَعْتُ وَبِك آمَنْتُ ، وَلَكَ أَسْلَمْتُ وَأَنْتَ رَبِّي خَشَعَ لَكَ سَمْعِي وَبَصَرِي وَمُخِّي وَعَظْمِي وَعَصَبِي لِلَّهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ وَيَقُولُ فِي سُجُودِهِ اللَّهُمَّ لَكَ سَجَدْتُ ، وَلَكَ أَسْلَمْتُ ، وَأَنْتَ رَبِّي،سَجَدَ وَجْهِي لِلَّذِي خَلَقَهُ وَشَقَّ سَمْعَهُ وَبَصَرَهُ تَبَارَكَ اللَّهُ أَحْسَنُ الْخَالِقِينَ }

محترم استاد صاحب دي په دغه اياتومباركانو ښه اجراء وتلامذوته وکړي

سورة قريش :لِإِيلَافِ قُرَيْشٍ (1) إِيلَافِهِمْ رِحْلَةَ الشِّتَاءِ وَالصَّيْفِ (2) فَلْيَعْبُدُوا رَبَّ هَذَا الْبَيْتِ (3) الَّذِي أَطْعَمَهُمْ مِنْ جُوعٍ وَآمَنَهُمْ مِنْ خَوْفٍ (4)

سورة الماعون :أَرَأَيْتَ الَّذِي يُكَذِّبُ بِالدِّينِ (1) فَذَلِكَ الَّذِي يَدُعُّ الْيَتِيمَ (2) وَلَا يَحُضُّ عَلَى طَعَامِ الْمِسْكِينِ (3) فَوَيْلٌ لِلْمُصَلِّينَ (4) الَّذِينَ هُمْ عَنْ صَلَاتِهِمْ سَاهُونَ (5) الَّذِينَ هُمْ يُرَاءُونَ (6) وَيَمْنَعُونَ الْمَاعُونَ (7)

(۶) ((شپـــږ مه روښنايي)) ((څلرم باب اول فصل))

دصفاتوعارضيو بيان دي د دي صفاتو هم څلور نومان دي، عارضيه، محسنه ، مزينه ، محليه، هريونوم خپلي وجهي لري چي په دغونومانوسره ياديـږي،

سوال :کيـږي چي ولي دغه نوما ن ورته وضعه کړه خويونوم هم کاپي نه ؤ ،؟ جواب،عارضيه نوم يي ورته وضع کي دد ي لپاره ځه دي بعضي وقت حروفوته عار ضيږي،

محسنه يي ځکه بولي چي په دي سره حروفوته ښائست ورکول کـيږي ،او مزينه يي ځکه بولي چي په دي سره حروفو ته زينت ورکول کـيږ ي ،محليه يي ځکه بولي چي، داګيني ته وايي نوداحروف هم دګيڼي حسيت لري، مخکي تردي بايد څلورر شيان په ياد ولرو اول داصيفات په ټولو حروفو کي نه راځي بلکي يواځي په اتو حروفو کي راځي هغه دادي (لَرْ مَنْء اَوِيْ) نو دغه صيفات عارضيه پر څلورونومانويادېږي (۱)عاريضيه (۲) محسنه (۳) محليه (۴) مزينه عارض مخکي چي بيان شروع کړو بايد عرضيات وپيژنو نو عرضيات دري دي:اول عارض بالحرف : دوهم عارض بالصفت : دريم عارض بالوقف : ،عارض بالحرف هغه ته وايي چي دحرف په وجه کيږي لکه ديرملون دقاعدي موافق چي ادغام اقلاب اخفا اظهار کيـږي،عارض: بالصفت لکه دصفت استعلا په وجه چي حروف مستعليه ډک ويل کيږي ،عارض: بالوقف لکه دوقف په وجه چي روم ياشمام يا اسکان ياسکون کيږي، څلورمه خبره داوه چي تنوين په حکم کي د نون ساکن دي کوم حکم چي د تنوين دي هغه حکم دنون ساکن هم دي مګر شپږفرقه سره لري: اول: فرق نون ساکن په تلفظ اوکتابت کي دواړوکي نون دي تنوين په تلفظ کي نون دي په کتابت کي دوه حرکتونه وي ،:

دوهم: فرق يي دادي نون ساکن دکلمي په منځ اواخير دواړوکي راځي ، تنوين يواځي په اخر کي دکلمي راځي:

دريم: فرق يي دادي نون ساكن په وقف او وصل دواړوكي سابت پا ته وي ،تنوين په وصل كي وي په وقف كي غورځي يا حزف كيږ ي :

څلرم: فرق نون ساكن په اسم اوفعل كي وى تنوين يواځي په اسم كي وي ،:

پنځم :فرق نون ساكن اصلي اوزائد دواړه راتلاي سي تنوين يواځي زائد راتلاي سي ،: شپږم: فرق دادي نون ساكن دتاكيد اوغير تاكيد دواړو لپاره راځي تنوين يواځي ده غير تاكيد لپاره راځي

المبحث الأول تمهيد عناصر المبحث:

1 - تعريف الصفة لغة. 2 - واصطلاحا. 3 - فوائد معرفة الصفات. 4 - اختلاف العلماء فى عدد الصفات. 5 - تقسيم الصفات.

شرح العناصر

1 - تعريف الصفات: الصفات جمع صفة، وهى لغة: ما قام بالشىء من المعانى ولا يكون من حقيقته، والصفة للحرف كالناقد البصير، كالعلم والصفحة والسواد وهى المعانى الحسية أو المعنوية.

2 - واصطلاحا: كيفية يوصف بها صفات الحرف عند النطق به، من شدة واستعلاء ورخاوة وإصمات.

3 - فوائد معرفة الصفات: ثلاثة (¬1): أ- تميز الحروف المشتركة فى المخرج. ب- معرفة القوى من الضعيف؛ ليعلم ما يجوز إدغامه وما لا يجوز، فإن ما له قوة ومزية عن غيره لا يجوز أن يدغم فى غيره لئلا تذهب. ج- تحسين لفظ الحروف المختلفة المخارج.

4 - اختلاف العلماء فى عدد الصفات: هم على ثلاثة مذاهب:

المذهب الأول: ابن الجزرى ومن تبعه: سبع عشرة صفة، وهو المشهور وعليه العمل. (1) نهاية القول المفيد بتصرف قليل ص 42. لطيفة: روى أن أبا حنيفة رحمه الله ناظر معتزليا فقال له: قل: باء، فقال: باء، فقال له: قل: حاء، فقال: حاء، فقال: بين مخرجهما؟ فبينهما. فقال: إن كنت خالقا فعلك فاجعل مخرج الباء من مخرج الحاء؟! فبهت المعتزلى وانصرف.

المبحث الثانى عشر فوائد تتعلق بالصفات

عناصر المبحث: تقسيم الحروف الهجائية إلى:

1 - قوى. 2 - أقوى. 3 - متوسط. 4 - ضعيف. 5 - أضعف. شرح العناصر تنقسم الحروف الهجائية إلى خمسة أقسام هى:

1 - قوى: الحروف القوية ستة، هى: الجيم، الدال، الصاد، الغين، الراء، الزاى.
2 - أقوى: الحروف الأقوى أربعة، هى: الطاء، الضاد، الظاء، القاف.
3 - متوسط: الحروف المتوسطة ثمانية، هى: الهمزة، الألف، الباء، التاء، الخاء، الذال، العين، الكاف.
4 - ضعيف: الحروف الضعيفة خمسة، هى: السين، الشين، اللام، الواو، الياء غير المدية.
5 - أضعف: الحروف الأضعف ستة، هى: الثاء، الحاء، النون، الميم، الفاء، الهاء. فالجملة تسعة وعشرون حرفا.

المبحث الثالث عشر صفات الحروف حسب قوتها

عناصر المبحث:

1 - بيان صفات الحروف القوية. 2 - بيان صفات الحروف الأقوى. 3 - بيان صفات الحروف المتوسطة. 4 - بيان صفات الحروف الضعيفة. 5 - بيان صفات الحروف الأضعف. 6 - الشاهد من الجزرية.

شرح العناصر1 - الحروف القوية: وعددها ستة: الرقم/ الحرف/ عدد صفاته/ بيانها 1/ الجيم/ 6/ الجهر/ الشدة/ الاستفال/ الانفتاح/ الإصمات/ القلقلة 2/ الدال/ 6/ الجهر/ الشدة/ الاستفال/ الانفتاح/ الإصمات/ القلقلة 3/ الصاد/ 6/ الهمس/ الرخاوة/ الاستعلاء/ الإطباق/ الإصمات/ الصفير 4/ الغين/ 5/ الجهر/ الرخاوة/ الاستعلاء/ الانفتاح/ الإصمات 5/ الراء/ 7/ الجهر/ التوسط/ الاستفال/ الانفتاح/ الإذلاق/ لانحراف/ التكرير 6/ الزاى/ 6/ الجهر/ الرخاوة/ الاستفال/ الانفتاح/ الإصمات/ الصفير

(۷)((اومه روښنا يي)) ((دريم فصل دلام قاعدي))

اوله قاعده :دلام جلا له ده يعني دالله لام دغه لام دري حالله لري په دوَ كي ډک ويل كـيـږي په يوه حال كي باريک ويل كيږي كه يي ماقبل حرف مفتوح وَيامضموم وَ لکه په دغه مثالوکی كي نوډک ويل كيږي (اَللهُ)(رَفَعَهُ اللهُ) دباريک ويلو مثال : (بِسْمِ اللهِ)(لِلّٰهِ)

دوهمه قاعده:لام د دوعاء دي اولام د درود شريف دي داهم داغه حكم لرى كه ماقبل مفتوح يا مضموم وَ نو ډک ويل كيږي كه ماقبل مكسور وَ نو باريک ويل كيږي لكه په دغه مثالوكى (اَللَّهُمَّ) باريک ويلو مثال(لِلَّهُمَّ)

خاص دالله درضاپاره ليكل سوي كتاب

سوال : د اللهم لام حکم ولي داسي دی لکه لام د الله ؟ جواب :اول دادي دغه لام هم په اصل کي الله دي دوهم جواب دادي چي داهم اسم زاتي دي:

دريمه قاعده :لام مطلق په حر حلت کي باريک ويل کيږي مثال ؛ (قُلْ) لام د (فَلْيَعْبُدُ)لام داسي نور په هرحال کي باريک ويل کيږي :

مسئله(لَا أَعْبُدُ) لام نکړي ادا (أَعْبُدُ) يي وه واي دلمانځه حکم څه دي ؟

لمونځ يي نه صحح کيږی اعاده يي لازمه ده

ان غير المعنى تفسد صلوته عند عامة المشائخ عالمکيري کشوری ج ۱ ص ۷۸

مسئله د زيز پر ځاي زور و وايي ياهم با لعکس و وايي څه حکم لري ؟

لمونځ فاسديږي که په معنی کي تغير راغلي اوکه يي عاقده هم داغه وي کافر کيږي

ان الخطاءما في الاعراب اي الحرکات والسکون (الی قوله)ان ما غير المعنى تغيرايکون اعتقاده کفرا يفسد في جميع ذالک سواء کان في القرآن اولی الخ (ردالمحتارج۱ ص ۴۶۶

مسئله (لحافظون) پر ځاي (لنافظون) ووايي څه حکم دي ؟

دارنګه ويلو سره لمونځ صحح دي (لوزادکلمة اونقص کلمة اونقص حرفاً اوقدمه اوبدله اخر الخ لم تفسدمالم يتغيرالمعنى (الدرالمختار فصل زلة القاری ج۱ ص ۴۶طبع رشيديه

(۸) ((اتمه روښنا يي))   ((پنځم باب اول فصل))

د (را) په قاعدو کي ده رابه ياډکه ويل کيږي يابه باريکه اورابه يامشد د ه وي يابه متحريکه وي او يابه ساکنه وي،قاعده (۱) که را زور ياپيښ ولري هغه راډکه ويل کيږي لکه (رَبَّکَ) ، (رُبَمَا) ،که يي زير درلودي نوباريکه ويل کيږي لکه په دغه مثال کي(رِجَالٌ) قاعده (۲) که رامشدده وه بيا که مفتوح يامضموم وه نوراډکه ويل کيږ ي، که مکسوره وه نو بيا باريکه ويل ،

(سِراً)(دُرِّيٌ)، قاعده(۳)که چيري راساکنه وي بيا نو تر را مخته حرف ته کتل کيږي که مخته حرف ،مفتو يا مضموم ؤ نورابه ډکه وايو که ماقبل حرف مکسور ؤ نورابه باريکه وايو لکه په دغومثالوکي ،(بَرْقٌ) (يُرْزَقُوْنَ) (اَنْذِرْهُمْ) خود يادوني وړده چي درباريک ويلو پاره دري شرطونه دي

(١)شرط چي دغه کسره به اصلي وي (٢)شرط دادي چي دغه کسره اورا به په يوه کلمه وي ،(دريم شرط دادي ورسته تر راساکني څخه به حرف مستعليه نه وي راغلي مثالونه ،

(اِرْجِعُوْ ا) (اَمِرْ تَابُوْا) (قِرْطَاسٍ) (اِرْصَادٍ،فِرْقَةٍ) (لَبِا لْمِرْصَادِ)

قاعده(۴)که راساکنه وه ماقبل حرف ته هغه وقت کتل کيږي چي د راساکني څخه مخته يي(يا) ساکنه نه وي راغلي ،قاعده(۵)که تريا ساکني مخته حرف ساکن ؤ بيا به دريم حرف ته ګوري که هغه دريم حرف مفتوح يامضموم ؤ نوراډکه ويل کږ ي که هغه مکسورؤ نو بيا را باريکه ويل کيږ ي لکه په لاندي مثالوکي ،لَيْلَةُ الْقَدْرِي ،بِکُمُ الْعُسْرْ،ذِيْ الذِّکْرْ،

وَقَالَ ارْكَبُوا فِيهَا بِسْمِ اللَّهِ مَجْرَاهَا وَمُرْسَاهَا إِنَّ رَبِّي لَغَفُورٌ رَحِيمٌ (41) وَهِيَ تَجْرِي بِهِمْ فِي مَوْجٍ كَالْجِبَالِ وَنَادَى نُوحٌ ابْنَهُ وَكَانَ فِي مَعْزِلٍ يَا بُنَيَّ ارْكَبْ مَعَنَا وَلَا تَكُنْ مَعَ الْكَافِرِينَ (42) قَالَ سَآوِي إِلَى جَبَلٍ يَعْصِمُنِي مِنَ الْمَاءِ قَالَ لَا عَاصِمَ الْيَوْمَ مِنْ أَمْرِ اللَّهِ إِلَّا مَنْ رَحِمَ وَحَالَ بَيْنَهُمَا الْمَوْجُ فَكَانَ مِنَ الْمُغْرَقِينَ (۴۳)

سوال: په (خَيْرٌ) (قَدِيْرٌ) کي راباريکه که ډکه ويل کيږ ي،جواب ، که وقف بالروم وسي نوبيا راډکه ويل کږ ي ،ځکه دحرکت يوڅه حصه په روم د حرکت ښکاره کيږ ي نوبياماقبل حرف اعتبار نه لري که راباکل ساکنه سوله نوبيا راباريکه ويل کيږ ي

((دوهم فصل)) سوال؟په(مِصْرْ ،عَيْنَ الْقِطْرْ)کي رابايد څه ډول و ويل سي ،جواب،قاريان ډک اوباريک دواړه واي دوقف په وقت کي ،ښه خبره داده چي ده خپل حرکت مرعات يي وسي په مصر کي تفخيم بهتر دي، په قِطْرِ کي تر قيق بهتر دي،

سوال: په (اِذَايَسْرِ)کي رابايد څه ډول و ويل سي ،جواب، په دي مثال کي چي وقف وسي ډکه ويل پکاردي خو قراؤ يي باريک ويل: بهتر بللي دي داقول ضعيف دي بايد دقاعدي مذکوري موافقه وو يل سي ،

سوال (بِسْمِ اللهِ مَجْرِيهاَ)دارابايد څه ډول ويل سي،جواب :،دا راباريکه وويل کيږ ي ځکه دارا ماله ده اصل کي مَجْرَاهادي ،ماله په

لغت کي، ميلان، ياکوږ والي ته وايي په اصتلاح کي ،ميلان دفتحي ،و کسري ته، اوميلان دالف وطرفته ديا ، وَقَالَ ارْكَبُوا فِيهَا بِسْمِ اللَّهِ مَجْرَاهَا وَمُرْسَاهَا إِنَّ رَبِّي لَغَفُورٌ رَحِيمٌ (41) وَهِيَ تَجْرِي بِهِمْ فِي مَوْجٍ كَالْجِبَالِ وَنَادَى نُوحٌ ابْنَهُ وَكَانَ فِي مَعْزِلٍ يَا بُنَيَّ ارْكَبْ مَعَنَا وَلَا تَكُنْ مَعَ الْكَافِرِينَ (42) قَالَ سَآوِي إِلَى

جَبَلٍ يَعْصِمُنِي مِنَ الْمَاءِ قَالَ لَا عَاصِمَ الْيَوْمَ مِنْ أَمْرِ اللَّهِ إِلَّا مَنْ رَحِمَ وَحَالَ بَيْنَهُمَا الْمَوْجُ فَكَانَ مِنَ الْمُغْرَقِينَ

(۴۳) دامام حفص صاحب په قول په ټول قرآن شريف كي يوځاي ماله كيږ ي ، هغه هم داغه مثاكي چي مو وليكل ،لكه (بِسْمِ اللهِ مَجْرِهَا اصل كي مَجْرَاهَا دي ميلان سوي دي مَجْرِهَا ويل كيږ ي ،

ماله پر دوه قسمه ده ماله صغرا اوماله كبرا ماله صغرا ميلان دفتحي وطرفته د كسري ،ماله كبرا ميلان د دالف وطرفته د يا ،دا د رامالي بيان ؤ،

قاعده (۵) په لفظ د فِرْقٍ كي اختلاف دي بعضي استاذان يي ډكه وايي بعضي باريكه وايي ،

اول قول حرف ته اعتبار ور كوي دوهم قول بيا وايي حرف مستعليه مكسور دي اعتبا نلري هغه وقت اعتبار ورډي چي مكسور نه وي ،

(۹)((نهمه روښنايي)) ((شپږم باب اول فصل))

(بيان د ميم ساكن اومشدد دي،)

قاعده (۱)كه ميم مشدد ؤنوغنه پر كول ضروري دي لكه لَمَّا

قُلْ اَعُوْذُ بِرَبِّ النَّاسَ (۱)مَلِكِ النَاسَ(۲) اِلهِ النَّاسَ)۳)مِنْ شَرِّ وَسْواسِ الخَنَّاسَ(۴)

قاعده (۲)دغنى مقدار يوالف دي دالف مقدار خلاصه ګوته بند ول يا بتده ګوته خلاصه ول،كه ميم ساكن ؤ نوورسته به ،ادغام يا اظهار يا اخفاكيږ ي،اغام هغه وقت كيږ ي چي ترميم ورسته ميم راسي لک (وَلَكُمْ مَّاكَسَبْتُمْ) (لَهُمْ مَّايشَآوُنَ) دغه ادغام صغير مثلين بولي ،

اظها هغه وقت كيږ ي چي ورسته تر ميم ساكن دحروف هجاءڅخه يوحرف راسي سيواده ،ب،م،څخه مثالونه يي ، دادي (اَمْ أَتيْنَاهُمْ) (تَمْتَرُوْنَ) (اَهُمْ خَيْرٌ) (تَمْرَحُوْنَ)

اخفا هغه وقت كيږ ي چي ورسته تر ميم ساكن حرف ،ب،راسي ،لكه (وَمَنْ يَّعْتَصِمْ بِاللهِ)دغه ته اخفا شفوي وايي ،((دبوف قاعده))

اختلاف د دروډلو دي مظهرين مخفين محريكين،اوله ډله واي ،چي اظهار دي كيږ ي پر،(با واو فا) باندي چي كله تر ميم ساكن راسي ،دوهمه ډله بيا وايي چي اخفادي كيږ ي

پر (ب و ف)دریمه ډله بیا وایي چي یوقسم حرکت دي ور کول سي ،دمخفینو اومحرکینو قولونه غلط دي ،دمظهرینو قول ضعیف دي ،نوښه خبره داده چي پر ،ب،اخفا وسي ،اوپر واو فا باندي اظهار وسي ، پر میم ادغام وسي ،

---

(۱۰)((لسمه روښنايي)) ((اوم باب اول فصل))

((دنون ساکن اومشدد په بیان کي ده)) ، نون که هر کله مشدد وي نو غنه پر کیږي ،لکه(اِنَّ) (خَنَّاسِ) قاعده هرکله چي نون ساکن وي نو اظهار حلقي اخفاشفوي اویاادغام مع الغنه او یا ادغام بلاغني یا اقلاب پرکیږ ي اظهار حلقي هغه وقت کیږ ي چي ورسته تر نون ساکن یا ورسته تر تنوین دحروف حلقیؤ څخه یوحرف راسي ،مثالونه:(اَنْعَمْتَ) (سَمِعٌ عَلِیْمٌ) حلقي حروف (۶) دي

(همزه ها عین حا غین خا) (ء ہ ع ح غ خ)

اخفا هغه وقت کیږ ي چي ورسته ترنون ساکن یا تنوین(۱۳)حروفو څخه یو نه وي راغلي (۶)حروف حلقي(۶) دیرملون حروف (۱)حرف با چي ټوله (۱۳)کیږي دحروف حلقي او دیرملون او با څخه سیوا بل حرف راسي ،لکه ادغام سره دغني هغه وقت کیږ ي چي ورسته یي د (ینمو)څخه یوحرف راسي،لکه (مَنْ یُّؤْمِنُوْنَ) (بَرْقٌ یَّجْعَلُونَ) ادغام بلا غني هغه وقت کیږ ی چي ورسته یي د (لر)څخه یوراسي ،لکه ،(مِنْ لَّدُنْهُ) (مِنْ رَّب) اقلاب هغه وقت کیږ ي چي ورسته تر نون ساکن اوتنوین حرف با راسي (سَمِعٌ م بَصِیر) (مِنْ م بَعْد)

- باب تَعْلِيمِ الصِّبْيَانِ الْقُرْآنَ

